بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر یال نمبر: 513


یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# شمالي وزيرستان: د پاک افغان پولې څخه د دراندازئی کوشش ناکامه کړی شوې، اوه خوارج جهنم ته استول شوی

امنيتي ځواکونو دشمالي وزيرستان دغلام خان سرحدي سيمې څخه دتي تي پي خوارج په نخښه کولو سره اووه ترهګر وژلي او وسلې او بارودي مواد يې ترلاسه کړي دي ـ

د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو هغه مهال ترهګر په نښه کړل کله چې دوی د باړ په پرې کولو سره د پاکستان پولې ته ننوتل ـ د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر ځای پر ځای ووژل شول په داسې حال کې چې بزدل خوارجو د وژل شویو ملګرو جسدونه پريښودي او تښتيدلي ـ



امنيتي ځواکونو د يوې منظمې ستراتيژۍ له مخې تښتيدلي ترهګر محاصره کړل او د تيښتې ټولې لارې يې بندې کړې او په ډيره سخته جګړه کې يې 5 تنه نور ترهګر ووژل، چې د وژل شويو ترهګرو شمير اووه تنو ته ورسيد ـ

له افغانستان څخه پاکستان ته د دراندازيې په هڅه کې مړ شوي ترهګر د حافظ ګل بهادر په مخ يو درنه څپيړه ده چې د پاکستان دننه د ترهګريزو فعاليتونو د ترسره کولو دروغ ادعا کوي ـ

په پاک افغان پوله تعينات سکيورټي اهلکار په پوره ذمه وارۍ، فرض او مسلکيتوب سره د ملک د پولو حفاظت يقيني کوي ـ د پاکې خاورې په وړاندې به د خوارجو ناپاکه اراده انشاءالله له منځه ولاړه شي ـ

مورخه: ۱۷ اپریل ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk